مطبوعاتي اعلامیه

د مونیخ د۵۴مې امنیتي غونډې خطاب

نه جنرال باجوا! خلافت کوم نااشنا احساس نه؛ بلکې هغه فریضه ده چې

رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د بیا راتګ زېری ورکړی




د ۲۰۱۸م کال د فبروري په ۱۷مه د مونیخ په ۵۴مې امنیتي غونډه کې جنرال باجوا وویل:« د خلافت مفهوم یو خیالي احساس دی» همداراز هغه وویل: « په پاکستان کې د خلافت فکر نه دی خپور شوی». .په دې اساس د لویو استعماري قدرتونو په کنفرانس کې چې له لسیزو راهیسې یې د امت پر وړاندې جګړه روانه کړې، د نړۍ د تر ټولو لوی اسلامي پوځ قومندان د خلافت د فکر په اړه نا سمې خبرې کوي.

له شک پرته چې خلافت د تېر حسرت نه، بلکې د ټولو مسلمانانو مسولیت دی او په اړه یې بې پروایي په جهالت کې مړینه ده. رسول الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَة جَاهِلِيَّةً»**

(مسلم)

*ژباړه: څوک چې مړ شي او له امیر سره یې بیعت نه وي کړی د هغه مرګ د جهالت مرګ دی.*

خلافت د ټولو عمرونو پر خاوندانو فرض دی؛ رسول الله علیه وسلم فرمایلي:

**«وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ فتكثُرُ«** قَالُوا :فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ» : **فُوا بِبَيْعَةِ الأَوَّلِ فَالأَوَّلِ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّا للَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ»**

**(بخاری)**

*ژباړه: په حقیقت کې ورسته له ما بل نبي نشته، خو خلفاء به وي او زیاتیږي به، نو دوی ورته وویل، په څه باندې موږ ته امر کوې؟ ویې فرمایل: لومړنی بیعت لومړنی دی هغه بشپړ کړئ او حق یې ورکړئ، ځکه الله د هغه څه پوښتونکی دی، کوم چې هغوی یې رعایت او سرپرستي کړې ده*

او رسول الله علیه وسلم یې له جبریه نظامونو ورسته د راګرځیدو زیری ورکړی. رسول الله علیه وسلم فرمایلي:

**«ثُمّ تكونُ مُلْكاً جَبريَّةً، فتكونُ ماشاءَالله أنْ تكون، ثُمّ يرفعُها إذ اشاءَ أنْ يرفعَها . ثُمّ تكونُ خِلافةً على مِنهاجا لنُبُوَّة ،ثم سكت»**

(رواه احمد)

ژباړه: بیا به جبریه نظامونه وي او تر هغه به وي چې الله سبحانه وتعالی یې وغواړي. بیا چې کله وغواړي هغه به لرې کړي او د نبوت پر منهج خلافت به راشي، بیا غلی شو.

له شک پرته نه یوازې دا چې د خلافت فکر په پاکستان کې ځای نیولی، بلکې د پوځیانو په ګډون دا د ټولو مسلمانانو لویه غوښتنه ده. له دې کبله پاکستاني حکام مجبور دي چې نوم یې واخلي، خو تر څنګ یې دوی خپل صلیبي باداران په دې ډاډمنوي چې خلافت به د تېر په څېر بیا د دوی د ښکار لپاره را ونه ګرځي. نو له همدې امله د پاکستان حکامو د خلافت غوښتونکو پر وړاندې د تهمت، ځورونې، نیولو، ربړولو او تښتولو کمپاین پیل کړی دی. حزب التحریر ټولو مسلمانانو ته دعوت ورکوي چې د خلافت د حکم د ادا کولو لپار ورسره یو ځای کار وکړي. او همدارنګه د پوځونو پر افسرانو غږ کوي چې ژر تر ژره نصرت ورکړي، چې یو ځل بیا دا حقیقي دین پر اسلامي خاورو عملي کړي.

**د حزب التحریر ولایه ـ پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**صدور ګڼه:۱۸۰۱۲**

**۱۴۳۹هـ.ق، د جمادي الثاني ۲مه**

**۲۰۱۸م، د فبروري ۱۸مه**

**ژباړن: علي عسکري**